سید عبدالله ولیزی ۲۰۱۲/۰۱/۰۸

# په آلمان کې د افغانستان د وېشلو په اړه
## په نیدرلند کې د افغاني کلتوري ټولنې غبرګون

درنو هیوادوالو!
په بربېښنا پاڼو کې داسې څرګندوني خپرې شوې دي، چې ګواکې د آلمان ملک د برلین په ښار کې د فیدرالي سیستم په بڼه د افغانستان د وېشلو یوه پټه غونډه رابلل شوې ده، چې په دغه غونډه کې د افغانستان د شمالي او مرکزي سیمو په استازیتوب یو شمیر زورواکان او په جنګي جرمنو تورن افغاني لاسپوڅي وګړي ورته رابلل شوي دي، چې د افغانستان د وېشلو په اړه ورسره ژمني او یا هم د افغانستان په چارو کې د لاسوهني د میکانیزمونو په اړه خبرې وشي.
له معلوماتو سره سم د دغه ډلې غړي د آلمان د عیسوي ډیموکراتیک ګوند یا کریستیېن ډیموکراتانو لخوا په پټه رابلل شوي دي، چې د دغه بې انصافه غونډې معلومات یې حتی له خپلو ګوندي غړو نه هم پټ ساتلي دي، ځکه چې د عیسویانو ډیموکراتیک ګوند په بربېښناپاڼه کې هم د دغه پټې غونډې په اړه معلومات نه دي خپاره شوي. د دغه غونډې پټې څیرې د افغانستان د دېرش کلن ناورین هغه بربنډه څیرې دي، چې د افغان ولس په وینو یې لاسونه سره دي، چې د دوی د ظلمونو په پایله کې د لیلا په دښته کې، د کلایې جنګي په سیمه کې، د کابل په پوهنتیو کې او د افغانستان په هر ګوټ کې د افغان ولس د قربانیو په وینو غاټول روزل کیږي.




د افغانستان په وروستیو څو لسیزو کې د افغان ولس د اېل کولو، مري کولو او بربادلو په اړه ډېرې هلې ځلې شوې دي، چې نه زموږ ګاونډیو ملکونو پر افغانستان رحم کړی او نه هم نړیوالو ځبرځواکنو، چې نن سبا صلیبي ډلو هم د افغانستان د وېشلو لپاره لیچې رانغښتې دي او دا دي د صلیبي جګړې لسیزه هم پوره شوه او لویدیز ځبرځواکونه هم له تیښتې سره مخامخ دي، ځکه نو د غچ اخیستنې په پلمه یې په سیاسي کړیو کې د فدرالي سیستم تیوري رامنځ ته کړې او له یو شمیر لاسپوڅو افغانانو سره یې لاسونه د افغانستان د نورو بدمرغیو لپاره یو کړي، چې افغان ولس د تل لپاره لکه د ډیورنډ کرښه په یو بل ټولنیز ناسور آخته کړي، چې دا دي د ډیورنډ له کرښې له یوې پېړۍ هم زیاته موده کیږي چې د افغاني ټولنې د پرهارونو وینې څڅېږي!

د افغانستان د وېشلو پلان نوی نه دی. د ۱۹۸۹ میلادي کال د فبروري له ۱۵ نیټې، چې روسانو له افغانستانه پښې سپکې کړې، نو هغه مهال یې هم د افغانستان د وېشلو سناریو پلې کړه، چې په شمال کې یې شورای نظار رامنځ ته کړه، د جنبش ملي د جوړولو پیلامې یې راوخوځولې او د حزب وحدت سره یې  دغه ډلې متحدې کړې، چې پایله یې په نویمو کلونو کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سوله ییز پلان شنډېدل ول، د افغانستان د اداري سیستم او افغاني واکمنې له منځه تلل ول او په افغانستان کې د لکهاوو خلکو د وینې توییدل ول، چې یوازې په کابل کې له ۸۰۰۰۰ ډېر انسانان ووژل شول.

په نیدرلند کې افغاني کلتوري ټولنه په دې اند ده، چې افغانستان یو نه وېشیدونکی هیواد دی او د افغانستان ټول وګړي پرته له تعصبه د دغه هیواد وګړي دي او مساوي حقوق لري. د افغانستان ټول ورونه قومونه پرته له دې چې په یو ټولنیز چاپیریال کې ژوند کوي، نو له یو او بل سره د دین، وینې او مینې په رښکې هم سره وصل شوي دي او ټول یو ګډ افغاني ذهینیت هم لري، ځکه نو د افغانستان په اړه د دا ډول مغرضانه غونډو جوړول به د افغان ولس کرکه د یرغلګرو ځواکونو پر ضد نوره هم پیاوړي کړي، د افغانستان ننني سوله ییزو هلو ځلو ته به دا ډول لاسوهنې نه جبرانیدونکی زیان ورسوي او په راتلونکي کې به په افغانستان کې د ټولنیز تاوتریخوالي سبب وګرځي.
موږ په دې اند یو چې په افغانستان کې د فدارلي سیستم تیوري یوه نا معقوله بې بنسټه او نه پلي کیدونکې تیوري ده. افغانستان یو موټی، نه بیلیدوکی او د ورونو قومونو هیواد دی. د افغانستان وګړي به تر پایه د خپل هیواد د ملي ارزښتونو لپاره سره او توده مبارزه وکړي او پرې به نږدي، چې زموږ هیواد لکه یوګوسلاویا او یا د بالکان سیمه غوندې زخمي شي او زموږ هیواد هم په ټوټو ووېشل شي، یو او بل ټبر یې تجرید او یا ورټل شي او یا هم زموږ په لرغوني هیواد کې د دوښمنانو د سیاسي لوبو د لاسوهنو زمینه ورته برابره شي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په نيدرلند کې افغاني کلتوري ټولنه په دې اند ده، چې د افغانستان ټول متدين خلک، علما، سياسي کارپوهان او اشخاص د آلمان د عيسوي ډيموکراتانو د دغه ناوړو هڅو په اړه په زغرده غبرګون وښيي او د خپل ګران هيواد افغانستان د ټوټې کېدو مخنيوی وکړي. موږ په دې ډاډه يو، چې افغانستان هيڅکله نه وېشل کيږي، مګر په خپلو هلو ځلو بايد د افغانستان د وګړو د قرباني د برېبوکې مخنيوی وکړو، ځکه لويديز يرغلګر له خپلې تيښتې سره غواړي په افغانستان کې هغه څه په ميراث پرېږدي، چې د شوروي اتحاد واکمنو په افغانستان کې په نويمو کلونو کې تر سره کړي ول.

د يو موټې، خپلواک او سمور افغانستان په هيله
و من الله التوفيق
په نيدرلند کې افغاني کلتوري ټولنه


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ